سلامونه!

عابدالله حیدرزی په هیواد کې د چاپېریال ساتني ځوان فعال:

د چاپیریال ساتني برخه کې مې دریم کال ده چې دخیل یم کار کوم فعالیت کوم د عامه پوهاوي په برخه کې د مختلفو لاري کار کوم چې له هغې جملې ویډیوي پیغامونه جوړوم د چاپیریال په برخه کې د عامه پوهاوي لپاره، مختلفو ویبپاڼو ته مقالي لیکم د چاپیریال ساتني برخه کې د عامه پوهاوي په یوه راډیو کې خپلي خپورني لرم مشخص د چاپیریال په برخه کې چې د کابل پوهنتون د چاپیریال ساتني ، ځمکپوني پوهنځیو او همداسی د چاپیریال ساتني برخي تخصیصینو سره مرکي کړم او لا به هم کار کړم ما سره ډیري طرحي دي چې باید کار پری اوشي او له ما سره پوره ټیم ده نور ملګر ي هم لرم ستاسو د همکاریو په هیله.

دا ټول هغه موارد یا مقالې دی چې کولاي شي د چاپیریال په ساتنه کې د خلکو د عامه پوهاوي په برخه کې ګټور تمام شي او بل تاسي چې کومو موضوعاتو ته اشاره کړي دا ټولي مقالي مې ستاسي د موضوعاتو مطابق او ورسره سر خوري.

نو ددي لپاره مې وغوښتل چې خپل ځيني مقالی درسره شریکې کړم له سایټ سره درسره شریکې کړم تر څو تاسي یې هم وګوري بدبختانه چې ځيني هیوادوال مو کاپي پسټ کوي .

# زموږ دنده پای ته نه رسیږي | عابدالله حیدرزی

- November 2, 2019
- Written by: تاند
- Leave a reply

عابدالله حیدرزی

- Category: مقالي
- permalink

- Tagged under:

طبیعت, حیدرزی, چاپېریال

- خپروونکی: تاند http://taand.com

My Page

انسان د طبیعت یوه برخه ده، غوره کامیابي په طبیعت غلبه نه ده بلکي له هغه سره جوړ جاړی دی.

چاپیریال د انسان د اړتیاوو د پوره کولو او ژوند ځای دی او هره ورځ چې تیریږي ارزښت یې لاپسې زیاتیږی. خو له بده مرغه دا مهال انسان په دې خاورینه کرُه کې له طبیعی منابعو څخه له حده د زیاتې ګټې اخیستو، په خاوره، اوبو او هوا کې د خطرناکه ککړتیاوو رامنځ ته کولو له امله، د له منځه تلو له ګواښ سره مخ کړی دی.

د یوویشتمې پیړۍ او اوسني عصر لویه ستونزه چاپیریالي ستونزې جوړوي. د چاپیریال ککړتیا اوسني نسل ته لوی ګواښ متوجه کړی دی. پوهانو ته ثابته شوې ده، چې د چاپیریال ساتنې په برخه کې څېړنې نظر نورو ټولو څېړنو ته ستونزمنې، مهمې ، د بیلابیلو برخو لرونکې او ضروري دي. چاپیریال ساتنه او د طبیعي توازن حفظ هم د بشریت او هم د ټولو نورو ژوندیو موجوداتو په خیر ده.

د څېړنو په اساس هر کال په ټوله نړۍ کې لږ تر لږه درې میلونه وګړي د ککړ چاپیریال له لاسه خپله ساه ورکوي، چې په دې کې (۹۰٪) سلنه په پرمختللیو هېوادونو او نور مخ په وده او وروسته پاتې هېوادونو کې شتون لري.

د چاپیریال ساتنې په مسلو کې له انسانی څواک څخه زیاتې ګټې اخیستو او په هره برخه کې د چاپیریال ساتنې زده‌کړې دود ګرځولو ته اړتیا لری.

اسلام مبین دین ټل خلکو ته دا حکم کوي چې تاسو خپل ځانونه او خپل چاپیریال پاک وساتئ تر څو د ډول ډول روغتایی ستونزو څخه بچ شئ.

داسلام ستر لاربنود حضرت محمد (ص) فرمایی:
دلاري څخه چټلي’پلیتي او هر مضر شی لري کول صدقه ده.

په ۱۹۶۰مو کلونو کې افغانستان ته د یو متمدنه هیواد په سترګه کتل کیده او کابل ته به یې د ښارونو ناوي ویل کیده.دا ځکه چې په همدي وخت کې د کابل ښاریان خپل ښار دومره پاک او شین ساتلی ؤ چې د ټولې نړۍ سترګي ورته اوښتي،متأسفنا چې په وطن کې مو پردی پاله کور ګډي جګړي شروع شوي او دغې مودي زیات دوام ونکړ او ډیر زر زمونږ ښارونه او هیواد د هغو ښارونو په ډله کې راغی چې د ښار نظافت او دچاپیریال سالمه ساتنه نه کوي او ورځ ترېلې یې هوا ککړیږي.

دا مهال چې دهیواد نفوس ورځ تربلې په زیاتیدو دی په لویو ښارونو کې دخلکو لخوا د ښار اوسیدني ښاري فرهنګ نه مراعات کیږي،هیڅوک ځان د چاپیریال د ساتنې په اړه

مسؤل نه ګڼي باید موږ او تاسي ټول پدې خبر ووسو چې دچاپیریال په ساتنه کې هغومره مسولیت چې دولت ته متوجه کیږي همغومره مسولیت عام خلک هم لري.
که دلته د یوې خوا دولت ګرم دی له بلې خوا خلک هم په پوره ډول پړه دي

دا به سمه وي چې د کثافاتو وړل او ټولول د ښاروالۍ کار دی، خو ښاروالۍ نږدې د ښار په ګڼو سیمو کې کثافات دانۍ لګولي دي، خلک ولې په کې کثافات نه اچوي او د کثافت دانیو څنګ کې یې اچوي. سمه ده چې ښاروالي به هم خپل کار سم نه کوي خو د یوه لاس نه ټک نه پورته کیږي که چېرته خپله ښاریان او د سیمې اوسیدونکي د خپل چاپیریال د پاک ساتلو هڅه ونه کړي نو یوازې ښاروالۍ او د چاپیریال ساتنې اداره څه نه شي کولی.

**زموږ دنده د چاپیریال په ساتنه کې:**

په ښار کې هره سیمه او کوڅه خپل مشر (وکیل ګذر) لري همدا مشران دې د خپلو سیمو خلک راټول کړي او ورته دې ووایي چې کثافات په خپل ټاکلي ځای کې واچوئ او د چاپیریال په ساتنه کې ټول سره لاسونه یو کړئ، په خپلو کورونو کې هم ووایئ چې خځلې بې ځایه ځای وانه چوئ، نو څه فکر کوئ تغیر به رانه شي او په ډېر لږ وخت کې به موږ د ډېر یو ښه چاپیریال لرونکي و نه اوسو.

موږ او تاسي باید هر یو د چاپیریال په پاک ساتلو کې خپل مسولیت ادا کړي په یو ډېر ښکلي او پاک چاپیریال کې به مو استوګنه وي.

د ښار د هرې سیمې مشران خپل کشران او کورنۍ د چاپیریال ساتنې د اهمیت او ارزښت په اړه پو کړي او د خځلو او ګندګیو د بې ځایه اچولو مخه ونیول شي تر ډېره بریده به مو ښار او سیمه پاکه شوې وي.

زموږ دنده ده، چې د یو پاک چاپیریال په رامنځ ته کولو کې خپله برخه کار وکړي.

که چېرته موږ د چاپیریال د پاکولو او پاک ساتلو مسولیت یوازې په ښاروالۍ او د چاپیریال ساتنې په اداري پورې محدود کړو فکر کوم چې دا به سم کار نه وي، ځکه موږ خپله د دې ځای او سیمې استوګن یو او تر ټولو ډېر د بد چاپیریال اغیز پر موږ او زموږ پر کورنیو کیږي؛ مانا دا چې ستونزه موږ ته پیښیږي، نو په حل کولو کې یې باید تر نورو لومړی منډه ووهو.

همدارنګه د ښاروالۍ مسولین وایي چې خلک په هر ځای کې د چاپیریال پر وړاندې د ښاروالۍ اړوند کومه ستونزه ګورې په سیمه کې دې نږدې د ښاروالۍ ناحیو ته ورشي خو ما ولېدل چې په ډیری ځایونو کې کثافات دانۍ لګیدلې وې، خو خلکو د کثافات دانیو پر ځای خځلې او ګندونه د کثافات دانیو تر څنګ اچولي که دولتي مامورین ټول ښار پاک وساتلی شي، خو که هر کس او هر فرد په خپله برخه کې مسولیت وپېژني نو ډېر ژر به ووینې، چې ټوله سیمه یې ښیرازه کړی

راځي د خپل چاپیریال د پاک ساتلو لپاره کار وکړو فکر نه کوي چې بیا به نو په یو پاک او سالم چاپیریال کې مو استوګنه وي.

(وایي، ښار زموږ ټولو شریک کور دی.) لکه څنګه چې د خپل کور د پاک ساتلو خیال ساتو راځي د خپل ښار په پاک ساتنې هم پوره پاملرنه وکړو.

وایې چې (( هره ورځ د چاپیریال ساتنې ورځ ده.)) نو موږ او تاسو هم باید د چاپیریال ساتنې ادارې او نورو مسولو ادارو سره یو ځای د خپل ښار د پاکولو په برخه کې مرسته وکړو.

ښه چاپیریال د ښه او سالم ژوند زیږنده دی.

880 total views, no views today

---

# ککړتیا مو څنګه وژنې؟ | عابدالله حیدرزی

- November 23, 2019
- Written by: ټاند
- Leave a reply

عابدالله حیدرزی

- Category: مقالي
- permalink

- Tagged under:

*ککړتیا, عابدالله حیدرزی*

- خپروونکی: تاندhttp://taand.com

My Page

په دې وروستيو کې د کابل هوا داسې ککړه شوې ده چې ساه اخيستل په کې ګران کار دی او په ځانګړې توګه د شپې له لوري د پلازمېنې هوا يوازې لوګی وي.

موندني ښيي چې په ۲۰۱۷ ميلادي کال کې د ککړې هوا له امله ۲۷ زره افغانان مړه شوي، همدا ده چې ويلی شو چې د کابل ککړه هوا دلته د روان جنګ نه ډېره وژوونکې ده. دې ورځو کې د کابل د ککړې هوا په اړه بيلا بيل راپورنه خپريږي چې له امله يې ښاريان انديښمن شوي ولې له بده مرغه د ښاريانو پام هغه مسؤليتونو او کړنلارو ته نه اړوول کيږي چې د هوا د ککړتيا د کچې را کمولو يا کم تر کمه نه زياتيدا کې رول لوبوي.

همداسي نورې ډيرې ناوړه پيښې دي چې زموږ ډيرى هيوادوال خپل ژوند پکې له لاسه ورکوي که هغه د اوبو، خاورې او همداسي ده هوا ککړتيا ده.

نو ځکه خو اړينه ده چې د ټولنې هر وګړى جلا جلا د چاپيرېال ساتنې موضوع ته د يوې ارزښتناکه او حياتي ښکارندې (پديدې) په سترګه وګورى او هيڅ کله جوړونکو عواملو ته يې، چې هوا، اوبه او خاوره ده زيان ونه رسوى.

راځى نن د هوا په ککړتيا خبري کوو چې سنګه کولاۍ شو ددې خطرناکې پيښې څخه ځانونه وژغورو او په يوه سالمه ټولنه کې ژوند ته دوام ورکړو.

دا چې د کابل د ککړې هوا په وړاندې د چاپيريال ساتنې اداره او د کابل ښاروالۍ څومره لاس په کار ده هغه بيله موضوع ده ولې دا بايد له پامه وه نه ويستل شي چې د ککړتيا په وړاندې د عامه ولس په ځانګړې توګه د ښاريانو ونډه نه اخيستل هغه څه دي چې دولتي ادارې په چارو کې د ناکامۍ سره مخ کړي.

د کابل د ککړې هوا د کچې راټيټولو په خاطر بايد د دولتي لاس په کاريدا سربيره، د کابل ښاريان بايد لاندې لارښوونې د خپل ژوند په چارو کې، ښې په کلکه عملي کړي. د ښاريانو دا چاره به وکولاى شي چې نه يواځې دا چې د با مسؤله ښاروندۍ هوډ را وټوکوي بلکې ورسره به د ښار ککړه هوا تر يو بريده را پاکه شي.

**سنګه د هوا د ککړتيا مخه ونيسو؟**

ښاري ټرانسپورټ کاروونه: که څه هم له بيخي بده مرغه د کابل ښاري ټرانسپورټ د کيفيت او شمير له پلوه د هيڅ برابر دى ولې د شخصي موټرنو، کوچنيو سورليو او ټيکسيانو ډيرښت هغه بدمرغي ده چې هم يې د ښار ګڼه ګونه ډيره کړې، هم يې د تيلو د ډير سوند له امله ښار په زهرجن غازونو لړلى. نو د همدې لپاره بايد د بدتر نه بد انتخاب شي او شخصي ټرانسپورټ په ځاى ښاري ټرانسپورټ ته لومړيتوب ورکړل شي. په دې برخه کې د ملي بس تش په نوم رياست هم بايد له خوبه راپاڅي او خپل ودروول شوي ملي بسونه دې په رڼه او آزاده سيالۍ شرکتونو/وګړو ته وسپاري ترڅو ښاري ټرانسپورټ آسانه او ارزانه شي.

د تيلو په ځاى د طبيعي غاز کاروونه: د ژوند په بيلا بيلو چارو کې د بريښنا، تودوخې يا ماشينونو د چلښت لپاره جنراتورونه/موټرونه په پټرولو/ډيزلو چليږي چې له امله يې هوا ته زهرجن غازونه مينځته راځي. د ژوند د يادو چارو مخته وړلو لپاره بايد ښاريان له

بریښنا یا کم تر کمه طبیعي غاز نه ګټه واخلي. دې سره به هوا د زهرجن دودونو کچه کې یو څه کمښت راشي.

د پلاستیکي توکو د کارولو نه ډډه: روانه لسیزه کې د پلاستیک صنعت وده کړې، د ژوندانه رنګا رنګ توکي له پلاستیکو چوړیږي چې نه یواځې د جوړیدا په مهال هوا ککړوي بلکې دغه پلاستیکونه پخپل ځان کې وروسته د کاریدا د هوا د ککړتیا برخه ګرځي. نو د ککړتیا د کمښت لپاره باید د پلاستیکي توکو کاروول کم کړای شي او په ځای دې خاورین یا کم تر کمه ښیښه اي توکي انتخاب شي.

موسمي او ځایي سبزیو/میوو کاروونه: موندني ښیي چې موسمي او ځایي سبزیانې او میوې کاریدا کولای شي لوجیستیکي ټرانسپورټ را کم کړي، د میوو د ساتنې صنعت اړتیا کمه کړي. د دې دا مانه چې د هوا د ککړتیا دوه داسې لاملونه چې د موسمي او ځایي سبزیو او میوو په کاریدا سره کم تاثیره کیږي د هوا د ککړتیا په راکمولو کې رول لوبوي. ورته حال کې د موسمي او ځایي سبزیو او میوو په کارولو سره د هغې سیمې سرمایه له بیرون تګ نه را خوندي کیږي چې دغه کړه پخپله یوه اقتصادي ګټه هم بلل کیږي.

نیالګي کرل: په یو ښار کې د نیالګیو، شنو ساحو او بوټو شتون نه پریږدي چې هلته هوا ککړه شي. د چاپیریال ساتنې پوهان د یو ښار/هیواد ۲۵ سلنه ځمکه شنه ساحه اړینه ګڼي ولې بدبختانه په ټول افغانستان کې دا سلنه تر ۲ پورې راټیټه شوې. د ښار د ککړې هوا لوي لامل همدا د نیالګیو او شنو ساحو نه شتون دی. د همدې لپاره چې د هوا ککړتیا را کمه شي؛ نو ټول ښاریان باید دا خپل ایماني او افغاني مسؤلیت وګڼي چې پخپلو ځمکو، کورونو آن په اپارتمانونو کې څه برخه ځای د بوټو، نیالګیو او ګلانو لپاره جلا کړي. دې سره به نه یواځې دا چې د ځایونو ښکلا مینځته راشي بلکې د هغه ټولو غازونو چې د ککړې هوا برخه دي او ښاریان د ساه اخیستنې له لارې بدن ته کش کوي، کم شي او ښاریان به یې له زیانونو نه خوندي شي.

ښاري ګڼه ګونې نه ګوښه کیدل: ښاري ګڼه ګونه د هوا د ککړتیا لامل ګرځي، دې سره ښار کې د هوا ککړتیا تر لوړې کچې رسي. د دې لپاره چې له دغې ککړې هوا نه وساتل شئ؛ نو ښه دا ده چې له ښاري ګڼې ګونې خوا ته مه ځئ. که چیرې د نه تګ امکان نه و؛ نو بیا کم تر کمه مو مخ په ټوټه او یا ځانګړ کړی شوو دستمالونو (ماسکونو) پټ وساتئ.

د کاريدا توکو د بيا بيا کاروونه: د ژوندانه د ترسره کولو لپاره بايد دا رنګه توکي له بازاره واخيستل شي چې تر ډيره د کار وړ وي او ورته حال کې ترې نورو برخو کې هم کار واخيستل شي، دې سره به د بيلا بيلو توکو د اخيستلو نه ډډه شوې وې. د توکو د بيا بيا اخستل صنعتونه جوړووني ته هڅوي چې د هوا ککړتيا لامل ګرځي. ورته حال کې بايد دا هڅه هم وشي چې دويم لاس (کاروول شوي) توکي اخيستل او پلورل هم بايد دود شي، دا کار هم د کارخانو د کم چليدا لامل ګرځي چې ترې د هوا ککړتيا را کميدای شي.

571 total views, no views today

# بي کيفيته تيل او زموږ تجاران| عابدالله حيدرزی

- October 27, 2019
- Written by: تاند
- Leave a reply


عابدالله حيدرزی

- Category: چاپېريال, مقالي
- permalink

- خبروونکی: تاند http://taand.com

My Page

زموږ ډیری افغان تجاران د پنځو افغانیو ګټي لپاره بې کیفیته تیل هیواد ته را واردوي چې دلته بیا د اته دیرش میلیونه افغانانو ژوند له ګواښ سره مخ کوي.

ککړتیا هغو بې کاره موادو ته چې په یوه چاپېریال کې ژوندیو موجوداتو ته د اختلال، نا انډولتیا او نا راحتۍ لامل کېږي، ویل کېږي. ککړتیا کېدای شي د کیمیاوي موادو په شکل وي یا د انرژۍ په شکل لکه غږ، ګرمي یا هغې رڼا چې چاپېریال ککړ کړي



موږ او تاسي وینو چې په هیواد کې مو ککړتیا اوج ته رسیدلی. افغانستان ته چې په ۱۹۶۰مو کلونو کې د یو متمدنه هیواد په سترګه کتل کیدل او کابل ته به یې د ښارونو ناوي ویل کیده. دا ځکه چې په همدي وخت کې د کابل ښاریانو خپل ښار دومره پاک او شین ساتلی ؤ چې د ټولې نړۍ سترګې ورته اوښتي خو نن موږ او تاسي وینو چې په نړی کې کابل د ککړو ښارونو په کتار کې لومړی هغه ښار دی چې ډیر ککړ دی له عواملو څخه یی یو بی کیفیته تیل دی چې په پراخه پیمانه هر ورځ د تیلو د مافیا په واسطه هیواد ته واردیږي چې د چاپیریال په ککړتیا کې مستقیم اغیز لری. دغه تیل چې کله په ډیزلي ماشینونو، کارخانو، فابریکو، جنراتورونو،موټرونو او هم داسي نورو وسایطو کې واچول شي دا تیل نیم ماشین سوځوي او سم نیم یی د لوګې په شکل هوا ته پورته کیږی.

**زهرجنه هوا په څه معنا!؟**

دغه بې کیفیته تیل دي چې په خپل ترکیت کې مختلف کیمیاوي مواد او زهرجن گازونه لري کله چې په ازاده فضا کې او یا هم د لوگې په شکل هوا ته پورته کیږي دغه بی کاره او زهرجنه هوا بیا موږ تنفس کوو چې زموږ ده مړیني لامل گرځي.

د څیړنو په اساس هر کال په ټوله نړۍ کې لږ تر لږه درې میلونه وگړي د ککړې هوا له لاسه ساه ورکوي، چې په دې کې (۹۰٪) سلنه په پرمختللیو هېوادونو او نور مخ پر ودې او وروسته پاتې هېوادونو کې دي.

هر لیټر گمرک شوي بی کیفیته تیل د سالمو تیلو په نسبت ۱۷ افغانۍ گټه لری د افغانستان بازار کې روزانه ۱۵ میلونه لیټره بی کیفیته تیل پلورل کیږي، چې هره ورځ د تیلو مافیا له دی لاري دوه سوه او پنځوس میلیونه افغانۍ گټه تر لاسه کوي. پورته ذکر شوی مبلغ د بې کیفیته تیلو د واردونکو مافیا د یوې ورځې درامد دي!

د چاپیریال د ستونزو څخه یوه لویه ستونزه دوړې یا میده گردونه دي. میده گردونه هغو گردونو ته وایي چې قطر یې له (۱۰) مایکرونو څخه کم وي او مایکرون د ملي متر زرمې برخې ته وایي. دا میده گردونه په اسانۍ سره سږو ته دتنفس له لارې ننوځي او هلته ځای نیسي، چې د امبولي او سر طان ناروغیو باعث گرځي او دا میده گردونه د زړو ډیزلي ماشینونو،بی کیفیته او زهرجنو تیلو، موټرونو او تولیدي کارخانو څخه راوځي، چې له بده مرغه په افغانستان کې ددغې ستونزې د کنټرول لپاره کومه ملي پالیسي نه شته.

په افغانستان کې د ژوند چاپیریال وضعیت هم د نورو وروسته پاتې هېوادونو غوندې ځورونکی او د زیاتې اندېښنې وړ دی؛ خو بیا هم د بېلابېلو دلایلو له امله دا موضوع له خلکو پټه او بې اهمیته پاتې ده، په اړه یې معلومات نه لري او حتی په اړه یې لږ سوچ هم نه کوي. دې موضوع ته تر ډېره دولتونو او حکومتونو هم پام نه دی کړی او یوه ډېره حیاتي موضوع یې له پامه غورځولې ده. که له هره اړخه دې موضوع ته وگورو؛ نو د لاملونو یوه برخه یې بیا هم امنیت ته راگرځي، یعنی سیاسي او امنیتي ستونزو بیا هم د ژوندچاپیریال د ژوند نورو برخو غوندې زیانمن کړی دی.

همدې ستونزو، جگړو او غربت زموږ خلک دومره ځورولي، چې یواځې د ژوندي پاتې کېدو په اړه سوچ وکړي، نه د سالم ژوند کولو او ژوند چاپیریال په اړه.